Deputy PM for Economic Affairs Office
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دويم کال - ۳۸مه ګڼه | پرله‌پسې ۵۲مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۱۰/۱۱



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعاليتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستيو اقتصادي فعاليتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- هرات کې د برېښنا اړوند مهمو پروژو ګټې اخيستنې ته سپارل او پيل

۲- کابل کې د هوايي پُل د جوړېدو د چارو پيل

# هرات کې د بریښنا اړوند مهمو پروژو ګټې اخیستنې ته سپارل او پیل



بریښنا د یو هېواد د اقتصادي پرمختګ له پاره ډېره مهمه ده. سره له دې چې افغانستان کې د بریښنا ډېر ظرفیتونه او فرصتونه وو، خو سمه استفاده ترې ونه شوه. اوس د افغانستان اسلامي امارت غواړي چې د افغانستان د بریښنا له ظرفیت او په هېواد کې له لاسته راغلي فرصته استفاده وکړي. په دې موخه یې په هېواد کې د بریښنا د تولید ګڼې پروژې پیل کړې. له اوبو، لمر، باد او نورو سرچینو د بریښنا د تولید او د بریښنا د زیربناوو د جوړولو ګڼې پروژې ترکار لاندې دي. خو تر هغو چې په هېواد کې له خپلو سرچینو بریښنا تولیدیږي، نو افغانستان به په بهرنۍ بریښنا متکي وي. د زیربناوو جوړول اساسي اړتیا ده او د کورنۍ او بهرنۍ بریښنا د انتقال له پاره یې موجودیت ډېر ضروري دی. هرات، چې د هېواد لویدیځ کې مهم صنعتي ولایت او د هېواد تولیداتو او محصولاتو کې ډېره ونډه لري، نو بریښنا ته ډېره اړتیا لري. په همدې موخه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند هرات ته د خپل سفر په ترځ کې د بریښنا څلور پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارلې. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په همدې موخه جوړو شویو مراسمو ته په وینا کې دا پروژې د افغانستان د صنعتي او اقتصادي ودې له پاره مهمې وبللې او زیاته یې کړه چې د دې پروژو پر مټ به د هرات ټولو صنعتي پارکونو ته ۲۴ ساعته بریښنا برابره، سوداګریز مرکزونه، کلیوالي سیمې او استوګنیز مرکزونه به له بریښنا برخمن او په کور دننه به د باثباته بریښنا خاوندان شو. د افغانستان بریښنا شرکت مسوولین هڅه کوي چې په هېواد کې د بریښنا تولید زیات او زیربناوې ورته جوړې کړي. په همدې موخه یې په مختلفو ولایتونو کې د بریښنا سکټور کې کورنۍ او بهرنۍ پانګونه جذب کړې ده. اسلامي امارت ټولو پانګوالو ته د پانګونې فرصت برابر کړی او هیله لري چې په افغانستان کې له راغلي فرصته استفاده وکړي. په هېواد کې د اقتصادي ودې او پانګونې د جذب په موخه پانګوالو او سوداګرو ته امتیازات او اسانتیاوې برابرې شوې دي. د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري په دې سفر کې د بریښنا د پنځو نویو سب سټېشنونو چارې هم پیل شوې. د څلورو پروژو د ګټې اخیستنې او پنځو نویو پروژو له بشپړېدو سره به هرات ولایت کې مهم بدلونونه راشي. دا پروژې به د پانګونې د زیاتوالي، د کار موندنې د فرصتونو د رامنځته کېدو او د اقتصادي ثبات د پیاوړتیا لامل وګرځي.

# کابل کې د هوایي پُل د جوړېدو د چارو پیل

د کابل ښار د ښکلا، ګڼې ګوڼې د کمښت او ښاریانو ته د اسانتیاوو په موخه په کابل ښار کې د کابل ولایت مقام مخې ته د کابل ښاروالۍ له لوري یو هوایي پُل ډیزاین شوی و، چې چارې یې د ریاست الوزراء اقتصادي او اداري محترمو مرستیالانو، د کابینې محترمو غړو، د کابل محترم ښاروال، د امارتي شرکتونو د محترم عمومي رییس او یو شمېر هېوادوالو په شتون کې پیل شوې.
د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپله وینا کې د یاد پُل



جوړېدل د ښاري نظم له پاره اساسي اړتیا وبلله او ویې ویل چې کابل ښار باید په معاصره توګه د یو منظم ښاري پلان له مخې پراختیا ومومي.
په هېواد کې د اشغال او زورواکو د ناقانونه کړنو له امله د کابل ښار ډېرې برخې غصب شوې وې، د ښاري پراختیا مخه نیول شوې او د ښار نفوس ته په کتو د ښار پرمختګ له پاره لازم ګامونه نه و اخیستل شوي. د افغانستان اسلامي امارت له راتګ وروسته کابل ښاروالۍ د ښاري ماسټرپلان مطابق د ښار پراختیا پیل کړه، چې تراوسه یې د ښار په ځینو برخو کې ګڼې پراختیایي پروژې پلي کړې او پلان لري چې ماسټرپلان او د کابل ښار نقشه د عصري وسایلو او د وخت غوښتنو مطابق په سم ډول پلې کړي.
د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال کابل ښاریان د ښار پاکوالي او نظم ساتلو ته وهڅول او په زیربنایي پروژو کې یې ترې د همکارۍ غوښتنه وکړه.
کابل ښار د هېواد له ګڼ نفوسه ښارونو دی او د اقتصادي ودې له پاره یې پراختیا ډېره ضروري ده.
له همدې امله امارتي مسوولین هڅې کوي چې کابل ښار ته پراختیا ورکړي، چې له یوې خوا ښار ښکلی او له بلې خوا اقتصادي وده چټکه شي.